مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب سپين‌غر

۲۰۲۳/۱۲/۱۸

اروپا څوک وه؟

«اروپا» د سامي يا فينيقي ژبې د «اېروب» له کلمې څخه پنځېدلې چې هغه بيا پخپل وار د اکدي ژبې له «اېرېبو» نه رغاول شوې او ويل کيږي چې له همدې لارې يې اروپايي ژبو ته لار موندلې. پخپله اروپايان دغه کلمه د لرغوني يوناني ژبې د «اېوريس «ياني» ليرې «يا» څېره «او» اوپس «ياني» لید «له توکو نه رغاول شوې بولي چې مانا يې لرليد او يا د» ليرې ليد] لرونکې [بڼځه «راخپژي .د سامي ژبې» اېروب «د عربي ژبې له» غروب «او «مغرب» سره ټينګ اړخ لګوي او لرغوني مانا يې هم غروب، لمر پرېوت، ماښام، تياره او مغرب دی.

فينيقيان - سامي توکمه وو چې د مديتراني په غاړه او د کرمل د غره او کلب سيند يا نهرالکلب ترمنځ په پرته سيمه کې ميشت وو. د کرمل غر د اسراييلو په شمال کې پروت دی او پخپله اسراييليان يې» هارها کارمل «بولي چې مانا يې «د خدای تاکونه» دي. نهر الکلب ته په الماني تاريخونو کې د «سپي سين» نوم هم کارول شوی دی. ژبپوهان فنيقي ليک د ختيځې اسيا له ژبو پرته د نورو ټولو ژبو «مور ليک» بولي. د لرغونو فينيقيانو د استوګنې سيمه د اوسني لبنان او سوريې د ځينو سيمو له ټاټوبي سره اړخ لګوي.

فينيقيان د يوناني ژبې د «فوينيکې» کلمې عربي بڼه بلل کيږي او ويل کيږي چې آر بڼه يې کنعان يا کنعانيان وه چې په لرغوني پېر/عصر کې په همدې نامه يادېدل .صيدا، <u>صور</u>، ارواد او جبل يې د نامتو ښارونو په کتار کې شمېرل کيږي. په زړه پورې ده چې يونانيانو د لبنان بندري ښار جبل، د «بيبلوس» په نامه ياداوه او د بايبل ياني» کتاب « نوم هم له همدې ښار سره تړاو لري .بشريت د ارغواني رنګ، شيشې او الفبا (ميخي خط) د اختراع له کبله د فينيقيانو منندوی دی:

خو اروپا څوک وه؟ د چا زړه ته لويږي چې اروپايان دې د دې نامه له پلوه د يوې لبناني پېغلوټې منندوی وي .د يوناني اسطورې له مخې، اروپا د فينيقي پاچا – اګينور لور وه. دغې لبناني پېغلې بوه ورځ د اوبو پرغاړه لوبې کولې چې د يونانيانو افسانوي خدای - زيوس وليده او سمدلاسه يې پرې زړه بايلود .زيوس په ټګۍ له ځانه څاروی جوړ کړ او اروپا يې په چل ول د لبنان له سينغارې /کځ) ساحل (نه پرخپله ملا او په لمبا سره د يونان **کريټا** ټاپو ته وتښتوله .کله چې دواړه کريټا ته ورسېدل، نو زيوس بېرته په خپلې اصلي بڼه راښکاره شو، له اروپا سره يې واده وکړ او اروپا د کريټا ملکه شوه.

له ډېرو لرغونو پېړيو راهيسې فيلسوفان او تاريخپوهان د دې خبرې پر سپينولو بوخت وو چې ښکلې لبنانی شهزادګۍ څنګه وکولی شول يوې بشپړې ستروچې/قارې ته دغه نوم وروبښي؟

د ساري په توګه، لرغوني تاريخ ليکونکي هيرودت) ۴۲۵ -۴۸۴مخزېږدي پېړی) په دې اړه کښلي: «هغه څه چې په اروپا پورې اړه لري، نو هيڅوک نه پوهيږي چې ايا له هغې نه سمندرګی راچاپېره دی که نه؟ که داسې نه وي، نو دا نوم يې له کومه کړی او چا دې **ستر وچې)** لويې وچې (ته دا نوم ورکړی دی؟ له دې پرته موږ [اړ يوو]دا خبره ومنو چې دا د يوې اروپا نومې <u>**صورۍ**</u> ښځې نوم و او تر هغې مخکې دا **ستروچه** هم، لکه د نورو په څېر بې نومه وه .«لکه چې يادونه يې وشوه، <u>صور</u> په لرغوني کنعان او د اوسني لبنان په سوېل کې د يوې لرغوني سيمې نوم دی.

هيرودت خپله ليکنه په بې ځوابه او زړه وهونکې توګه او په داسې ټکو سره پای ته رسوي چې رښتيني تاريخي شکونه په هيڅ ډول نه شي پرېمينځلی :«نور نو دا موضوع پر همدې ځای بس ده. زه به پخپل وار، په هر حال په راتلونکې کې هم، هماغه نومَونه/اصطلاح کاروم چې د عادت له مخې ورسره روږدي شوي يوو»

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ

په دې توګه د اروپا کلمه له ټولو پوښتنو، شکونو او بحثونو سره سره تر اوسه لا هماغسې پېغله او تانده پاتې ده، خو سیمه یې د پېړیو په اوږدو کې له یونان نه بهر لا پسې ارته او پراخه شوه.

د تاریخي ژبپوهانو په اند، زیاتره هېوادونو خپل نومونه یا له اسطورو، سیمو، تاریخ، جغرافیا او یا هم «ځاینوم» (توپونیم)، لکه سیندونو، غرونو، دښتو ...څخه اخیستي دي.

د بېلګې په ډول، د هېواد په توګه د اوسني اردن نوم - هلته د اردن له بهېدونکي سین نه اخیستل شوی دی. د عراق نوم هم همدې ته ورته دی، داسې چې عراق د دوو سیندونو (بین النهرین(، یانې فرات او دجلې تر منځ د پرتې سیمې نوم و. د عراق کلمه د سامي ژبې له» اوروک «نه چې د اوبو مانا ورکوي، اخیستل شوی ده.

د ایتوپیا یا حبشي نوم بیا له یوې افساني نه پنځېدلی دی .تاریخي ژبپوهان او تېره رینپوهان /ریښه پېژندونکي)ایتیمولوجیستان (وايي چې د ایتوپیا کلمه له اره یوناني ده او د «سوځېدلي مخ»، «سوي مخ«، »لمروهلي مخ» یا تورمخي په مانا ده .د لرغوني یونان د اسطورې له مخې، فایتون بوه ورخ پخپله» لمرګاډې «کې د حبشې له پاسه تېرېده چې ګاډې یې هملته راولوېده او د تودوخې له امله یې د ځایي خلکو مخونه وسوځېدل .په یوناني اسطورو کې ویل کیږي فایتون د لمرخدایګوټي» ایوس «خوریې و او مانا یې ځلېدونکی/مشعشع ده.

د استرالیا نوم بیا له جغرافیایي پرېوت/موقعیت نه اخیستل شوی دی. دا کلمه د لاتیني ژبې له «تېرا استرالیس» نه اخیستل شوې چې مانا یې «سویل خاوره» یا «سویلي هېواد» راخیژي .خو د اوسني افریقایي هېواد – انګولا نوم بیا د دغه هېواد د لرغوني پاچا «نفګولا» له نامه نه چې په سپاړسمه پېړۍ کې یې د اوسنۍ انګولا پر لرغوني خاوره -«ندونګو» واکمني کوله، منځته راغلی. انګولا تر برازیل وروسته د لوزوفون (پرتګالي ژبو هېوادونو) په لړ کې دویم لوی هېواد دی.

د بربادوس ټاپو نوم د سیمې له حاصلاتو سره تړاو لري. د «لاس بربادوس «مانا په حقیقت کې» ږیرور «ده، خو موخه ترې د اینځروني دي چې په دې سیمه کې زیاتې موجودې دي .آخوا په کارابین سیمه کې د پروت هېواد - هایتي نوم هم د سیمې له ځانګړتیا سره اړخ لګوي. د هایتي مانا تر ډېره ځایه غرنۍ سیمه یا غرنی هېواد دی.

د بلغاریا/بلګاریا نوم بیا د دغه هېواد د وګړو له جوړښت سره نېغ په نېغه تړاو لري. د «بُلګ «کلمه له ترکي ژبې اخیستل شوې او د «ګډولې» یا «مختلط»مانا ورکوي او دا له دې امله چې په بلغاریا کې د بېلابېلو توکمونو اړوند وګړي ژوند کوي. د ایټالیا نوم د دغه هېواد له لرغوني قوم – ایتالیچي له نامه نه پنځېدلی چې د دې ټاپووزمې په سویلي څنډه کې یې ژوند کاوه.

د اتریش نوم د جرمني ژبې له» اوستاریېني«، یانې په ختیځ کې له پرتې خاورې یا سیمې څخه اخیستل شوی دی. دغه کلمه د لومړي ځل له پاره د جرمني پاچا (قیصر) - دریېم اوټو له خوا پر ۹۹۶ یم کال په یوه لیک کې ترسترګو شوې ده. اتریش په رښتیا هم د جرمني د اوسني ایالت – بایرن په ختیځ کې پروت هېواد دی. پخپله د جرمني هېواد د نوم ریښه هم چې په جرمني ژبه «دویچلنډ» بلل کیږي، همه په زړه پورې ده. د دویچلنډ کلمه د لاتیني ژبې له »تېودیسکوس «نه منځته راغلې چې مانا یې «په خلکو پورې اړه» ده. له همدې امله په لرغوني جرمني کې خلکو په لاتین نه، بلکې» تېودیسکا لینګوا«، یانې د خلکو په ژبه خبرې کولې.

اخځ:

1-Eurolingua - Deutsch als Fremdsprache: Eurolingua Deutsch, Bd.3, Kursbuch Taschenbuch – 1. April 1999, Cornelsen, Seite 164, von Prof. Dr. Hermann Funk (Autor), Michael Koenig (Autor).

2 - Winfried Bühler: Europa: ein Überblick über die Zeugnisse des Mythos in der antiken Literatur und Kunst. München 1968.

۳ -د یوناني او اروپایي اسطورو) میتولوژۍ (په باب بېلابېلي لیکنې .
جرمني، ۲۰۱۷

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ